بسم الله الرحمن الرحيم

## د رسول الله صلی‌الله‌علیه وسلم او سایکس-پیکو بیرغونو تر منځ څه توپیر دی؟

**(ژباړه)**

په «حُسن» ښوونځي کې د پینځم ټولګي زده‌کوونکي له استاد حسین ابوالحج څخه پوښتنه وکړه. استاد ځواب ورکړ او زده‌کوونکو ته یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم بیرغ، هغه چې اسلامي اُمت یوځای او متحد کوي او د سایکس-پیکو بیرغونه، چې د بریتانیا، فرانسې او غربي هېوادونو له لوري رسم او په اسلامي هېوادونو تپل شوي، چې مسلمانان سره بېل او سپیڅلې خاوره یې ټوټه ټوټه کړي، ډېر توپیر لري.

زده کوونکي ته یې له اسلام سره سم او د یوه مسلمان په توګه، چې له اسلام سره مینه لري، حقیقي ځواب ورکړ. ښکیلاکګرو ته ژمن او د هغوی په ککړو سیاسي پیسو ژوندي لاسپوڅي، په غوسه شول. د استاد حسین لپاره د پلټنې دوې کمیټې رامنځ ته شوې؛ یوه په بیت الحم ولایت کې د ښوونې او روزنې وزارت لخوا او بله د ښوونې او روزنې ریاست لخوا. د پلټنې په دوران کې، ځېنوکو ځواکونو ښوونځی محاصره کړ، د 17/11/2021 مه، له یهودي دولت سره له همغږۍ وروسته، هغوی د حُسن ښوونځي انګړ ته ننوتل او استاد حسین یې د ښوونځي له دروازې وتښتاوه.

29/11/2021، د دوشنبې په ورځ د فلسطین کورواکه ادارې، چې کله استاد انیس حمامراء خپل نوي ښوونځي ته په لاره و، وتښتاوه، په زوره له ښوونځي تبدیل شوی و، په هغه څه ونیول شو، چې استاد حسین ابوالحج نیول شوی او تبدیل شوی و.

د ښوونې او روزنې له ریاست څخه لیدونکي پلاوي سره د معارف رییس او هغه مرستیال په خبرو کې فوق العاده ټکر شتون درلود، هغه څه چې د ښوونې او روزنې ریاست او فلسطین کورواکه ادارې ترسره کړي و، وغندل.

د ښوونې او روزنې رییس ځواب دا وو، چې استاد حسین منلې او اقرار یې کړی چې هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم بیرغ او سایکس-پیکو بیرغونو ترمنځ توپېر کړی! له ښوونځي څخه د هغه تبدیلي د ماشومانو ساتنې او ژغورنې لپاره وشول.

آیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم بیرغ او سایکس-پیکو بیرغونو تر منځ توپېر کول جرم دی!؟

تاسو هغوی له چا څخه ژغورئ؟ او څوک د هغوی ژوند گواښي؟ موږ د حُسن ښوونځي له ښوونکو سره خبرې وکړې او هغوی له نوموړو دوه تنو استادانو څخه مننه وکړه، زده کوونکي مينه ورسره لري، د حُسن ښارگوټي خلک اسلام ته درناوی لري او مراسم يې لمانځي. له فلسطين کورواکه ادارې او قاتلينو څخه پرته څوک د هغوی ژوند گواښي!؟

موږ غواړو پوه شو چې، د رسول الله صلی الله عليه وسلم بيرغ په اړه خبرې کولو کې داسې څه و، چې د ښوونې او روزنې وزير يې په غوسه کړ او د سايکس-پيکو بيرغونو او پولو په اړه خبرو، ولې نسرين عَمر غوسه؟ يا دا چې د فلسطين نصاب، يهودي دولت او اروپايي ټولنې سره د استاد حسين خبرې په ټکر کې دي!؟

پريږدئ چې دوی څواب راکړي، خو د فلسطين په نصاب کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د بيرغ په اړه څه نشته!؟ خالد ابن وليد رضی الله عنه، قومندان صلاح الدين، د خيبر غزوه او په بني قريظه کې د سعد ابن معاذ حکومت... د فلسطين په نصاب کې نشته!؟ هغوی ولې د فی سبيل الله جهاد آيتونه ليرې کړل!؟

هغوی ولې نه غواړي، چې مسلمان ماشومان په دې پوی شي، چې د اسلامي هېوادونو ترمنځ پولې، ښکيلاکگرو رسم کړي دي!؟

ولې په درسي نصاب کې نشته چې د بيت المقدس آزادول يوازې په في سبيل‌الله جهاد او د اسلامي‌اُمت په يووالي، تر واحدې اسلامي رهبرۍ لاندې، چې اسلام به ليږدوي او د يهودو جرړې به وباسي، کېږي!؟ ولې ورته د خپاره شوي بريتانوي اسنادو په اړه ونه وايو؛ چې مارک سايکس د خپلو ناظرينو څخه ښښنه غوښتې وه، د دې لپاره چې د عربي بيرغونو رسامي يې کمزورې او په بيړه کښلې وه!؟

ولې درسي نصاب دې ته ليوالتيا لري؛ چې هغه لويديځ مفاهيم او ارزښتونه له اسلام سره ټکر لري، لوړ وښيي؟ دوی هڅه کوي چې زموږ اسلامي هويت له منځه يوسي؛ هغه هويت چې زموږ عزت او يووالی پکې نغښتی دی.

**اې په سپېڅلې خاوره کې زموږ خلکو!**

هغه رښتينی مجرم څوک دی، چې د مسلمانانو بچيان له دين او د رسول الله صلی الله عليه وسلم له بيرغ څخه راگرځوي، چې حساب کتاب ورسره وشي.

رښتينی مجرم هغه څوک دی چې د مسلمانانو د بچيانو په مغزونو کې د سايکس-پيکو پولو او بيرغونو، چې اسلامي اُمت يې پاشلی، درناوی ځای پر ځای کړي.

ریښتنی مجرم د فلسطین کورواکه اداره او د هغې امنیتي خدمتونه دي؛ هغه چې په ویجاړونکو ځیزونوبدله شوې ده، چې د فلسطین خلک په هره برخه کې له منځه وړي. هغه غربي بنسټونه چې زموږ کورونه او کورنۍ ورانوي، د هغوی په وران کاریو خوله پټوي، دا ستا لپاره بسنه کوي، چې بدل شوې ښوونې او روزنې او ښوونیز نصاب ته کتنه وکړي، رسنیزو بنسټونو او د هغوی رول د فساد او فسادي ارزښتونو خپرولو ته وګورئ، امینتي بنسټ ته وګورئ چې د ښکېلاک په امنیتي وسلې بدل شوی، تاسو شاهد یاست، نن ورځ چې کوم کمپاین د مقاومت پر وړاندي د فلسطین کورواکې ادارې او یهودي دولت لخوا هممهاله پیل شوی، په کافي کچه د تاییدوړ ګرځېدلی، همدارنګه د مجریمینو، قاتلینو او د نشه‌یې توکو ستر قاچاقبران چې د ټولنې له منځه وړلو لپاره د فتنې زړې کري، په کارونو پرده غوړوي.

حسین الشیخ او رجب وایي چې د مقاومت وسلې په نوم څه نشته، مګر د مجریمینو، قاتلینو او د نشه یې توکو قاچاقبرانو وسلې څنګه!؟ د فلسطین کورواکه اداره ولې خپل کمپاین د مجریمینو، قاتلینو او د مجرمینومشران، چې د نشه یې توکو ملاتړ کوي، په لورې نه اړوي!؟

موږ ته ځواب راکړئ ولې مو استاد حسین ابوالحج او استاد انیس حمامرا ونیول؟ د چا ګټو لپاره د اسلام ساتندویان نیسئ او د لویدیځې ترانګې په ټولو ښارونو کې یې لټوی؟ د قاتلینو او لاسپوڅو لاسونه په ځمکه کې د فساد خپرولو لپاره خلاص دي.

**ښاغلو قاضیانو!** د کمزورو لپاره ستاسو دنده د عدالت او انصاف قایمول دي او موږ تاسو د فلسطین فاسدې کورواکې ادارې په لاس کې له ابزارو څخه ډېر لوړ ګڼو.

د اسلام او دعوتګرانو دښمنې امنیتي ادارې خدمتونو ته غاړه ایښودل جرم او فساد نه دی؟ او تاسو د هغوی په فساد ښه پوهیږئ، نو بیا ولې د هغوی جرمونه پټوئ؟

موږ د بیت الحم محکمې له قاضي څخه پوښتنه کوو؛ ولې تاسو د استاد حسین ابوالحج له آزادولو مخ اړوئ؟ هغه څه ګناه کړې وه، چې تراوسه [د دې مقالې نوشته کولو تر وخته] مو په زندان کې اچولی؟ د مسلمانانو یووالي ته دعوت جرم دی!؟ آیا د رسول الله‌صلی علیه وسلم بیرغ په اړه خبرې کول جرم دی!؟ د فرانسې او انګلیس له خوا د مسلمانانو ویشلو په اړه خبرې جرم دی!؟ د مسلمانانو تر منځ د تفرقې په اچولو کې د اجنټانو رول په اړه خبرې جرم دی!؟

ولې تاسو د معارف زارت جنايات، چې زموږ د ماشومانو پر وړاندې يې کوي نه وينئ، آيا دا د اسلام دښمنانو امرونه منل نه دي، چې درسي نصاب کې بدلون راولي ترڅو زموږ ماشومان له دين څخه لرې کړي او غربي مفاهيم او ارزښتونه په مغزونو کې ځای پر ځای کړي، آيا دا جرم نه دی تاسو جرم څه ته وايئ؟ آيا نه وينئ چې له دغه او هغه څخه موخه له ښکيلاک څخه ساتنه او غځونه ده؟ تاسو نه وينئ چې شاوخوا مو څه تيريږي؟ يهودي دولت د اکټاپوس په څېر خپريږي او د هغوی ولسمشر خپل مذهبي لمانځنې له ابراهيمي مسجد څخه اعلانوي او دا د خليل الرحمن ښار ته ناوړه پايلې لري.

آيا تاسو نه پوهيږئ چې يهودي دولت ته چا واک ورکړ، چې خپل ښارګوټي په هرځای کې جوړ کړي؟ د فلسطين کورواکې ادارې له خوا امنيتي همغږی نه دي شوې؟ دوی د مسلمانانو چارواکي نه دي، د اړيکو سمولو اجنټان نه دي!؟

**اې په فلسطين کې زموږ خلکو!**

د فلسطين کورواکه اداره، لاسپوڅي مشران، يهودي دولت، امريکا او ښکيلاکګر د اسلام په راپورته کېدو خفه دي او له دعوت سره يې جګړه کوي. نو غږ مو پورته کړئ او روښانه وواياست، چې ستاسو بيرغ د رسول الله صلی الله عليه وسلم بيرغ دی او تاسو د اسلامي امت غړي ياست. د اسلام د دښمنانو زړونه له وېرې ډک کړئ، د الله تعالی او خپل دين ته د کار کولو له لارې، چې اسلامي خلافت تاسيس، دين اقامه، د ښکيلاکګرو نفوذ ختم او فلسطين خپلواک شي.

**{وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ * بِنَصْرِ اللَّهِ يَنْصُرُ مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ}** [الروم:۴-۵]

***ژباړه:*** *او په هغه ورځ به مسلمانان خوشحالی وکړي؛ الله د هر هغه چا سره مرسته کوي چې خوښه يې شي، هغه برلاسی او مهربان دی.*

او په هغه ورځ د منافقانو او خائنانو لپاره هېڅ ډاډګيرنه نشته.

**حزب التحرير- د فلسطين مبارکه خاوره**

**1443هـ.ق، د ربيع الاول 26مه**

**2021م، د ډسمبر اوله**